# د انور او منګل مرثيې يوه څېړنه

# An analysis of Anwar and Mangal's elegy

Bad Shah Room [1] Ali Khel Daryab

Sikandar khan khattak has treated the numerous subjects in various poetic genera , different persons and personalities are there in his elegies that depicts about their charismatic uniqueness. Some of these elegies regarding the death of Anwar and Mangal needs analysis. This research article will evaluate about who were they and what was their relation with the poet. This paper deals with the elegies of Anwar and Mangal as well as relationship between them and Sikandar Khan khattak.

مرثيه د عربۍ ژبې ټکے دے او د " رثا " نه ماخوذ دے ، چې د چا په مړينه د وير کولو په معنو کښې مستعمل دے. په ادبي اصطلاح کښې مرثيه هغه نظم ته وئيلې شي چې شاعر پکښې د چا په مرګ د غم او خفګان شديد جذبات رانغښتي وي. او د مرحوم ځانګړنې، خوبۍ او صفات ئې پکښې ستائيلي وي.او د هغه د ارواښادۍ دپاره پکښې دعا غوښتې شوې وي. پښتو کښې د مرثيې دپاره د " ساندې" او " ويرنې" ټکي پکارولې شي.

فرهنګ آصفيه د مرثيې تعريف څهٔ دا ډول کوي .

> " هغه نظم يا اشعار چې پکښې د يو سړي د وفات يا شهادت حال درج شوې وي او د غم او افسوس څرګندونه ترې کېږي." (۱)

پروفېسر فضل مير خټک پخپل کتاب کښې د مرثيې په حواله ليکي.

> " د مرثيې لفظ د " رثا" نه مشتق دے. چې معنيٰ ئې ده ، ژړا انګولا کول،ماتم او نوحه کول، او د مړي ذکر خېر کول، په عربو کښې به چې د چا شاعر ورور ، عزيز يا دوست وغېره مړ شو نو د خپلو جذباتو اظهار به ئې په نظم کښې کولو ، ددغه صنف نوم مرثيه ؤ." ( ۲ )

1 Chairman Pashto department University of Malakand

ډاکټر نصیب الله سیماب مرثیه داسې معرفي کوي .

" مرثیه په اصطلاح کښې هغه نظم ته ویل کېږي چې په هغه کښې د یو چا پر مرګ ویر شوے وي. مرثیې ته په پښتو کښې ویرنه هم ویل کېږي.په مرثیه کښې د مړ شوي کس خوبیاني بیانېږي. د هغه د ننګ یادونه کېږي د ښاغست ، مایلیت او ښهٔ خوئ ئې یادېږي.مرثیه پر خپل عزیز او قریب لیکل کېږي او پر هغه چا لیکل کېږي چا چې یو ستر کار کړئ وي." (۳)

دارنګې ډاکټر عطش دراني د مرثیې د هیئت وضاحت داسې کوي.

" د مرثیې د پاره کوم خاص صنف یا هېئت نه دے ټاکلے شوے ، دا د مثنوي، مثلث، مربع، مخمص، مسدس، ترکیب بند، وغېره او په هر رنګه هیئت کښې لیکلے شي. " ( ۴)

زلمے محقق نورالبصر د مرثیې اقسام دا رنګ راښائي .

" عام طور سره د درې قسمه مرثیې لیکلې شي. یو قسم مرثیه شخصي وي چې هغه د رشته دارانو دوستانو او د کورنۍ د عام وګړو په مرګ لیکلې کېږي. ددې قسمه مرثیو دائره اثر تر خاص خلقو پورې محدود وي. دمرثیې دوئم قسم ته مونږ اجتماعي یا قامي مرثیه وئیلې شو. دداسې قسمه مرثیو دائره اثر تر یو پوره قوم یا علاقې پورې محدود وي. دا قسمه مرثیې د قامي او مذهبي مشرانو ، شاعرانو ادیبانو او ننګیالو ځوانانو په مرګ لیکلې شي. .... د مرثیو دریم قسم ته مونږ افاقي مرثیې وئیلې شو. لکه د کربلا په موضوع لیکلې شوې مرثیې ، دداسې قسمه مرثیو اثر په ټول عالم اسلام باندې وي او په اوریدو ئې ټول عالم اسلام ته د واقعه کربلا د ظلم نه ډک داستان مخې ته شي. " (۵)

د نړیوال ادبیاتو د مطالعې نه دا خبره مخې ته راځي چې ددنیا ورومبۍ مرثیه په سومېري ادب کښې موندے شي. په دې لړ کښې ابن حنیف لیکي

" د عراق نه دوه بل رقم منظوم ويرنې تر لاسه شوې دي چې دا په نړۍ کښې د خپل نوعيت د ټولو نه لرغونې مرثيې دي چې په تحريري شکل کښې بيامونډې شوي دي. دا د انسانانو يعني د پلار او کوروداني په مړينه وئيلي شوې دي. .. اګرچې په موجوده شکل کښې دا مرثيې په نپور (نبرو) ښار کښې د نن نه څۀ کم پنځه زره کاله قبل مسيح (۱۷۰۰ق م) په تختو ليکلې شوې دي. خو يقيني خبره دا ده چې دا منظوم ادبپارې ددغه وخت نه ډېر وړاندې تخليق شوي دي. " (۶)

وړاندې ليکي.

" په سومېري ادبياتو کښې د خلقو په مړينه وئيلي شوي درې ويرنې د خصوصي اهميت وړ دي. يوه ويرنه د پلار په مرګ دوېمه د کوروداني درېمه د قاصد په مرګ ليکلې شوې ده. " (۷)

هم دا رنګې د دغه تهذيب شهر اشوب ته هم د اوليت درجه حاصل ده، چې په دغه خاوره ئې تخليق بيامونډے دے.

"په سومېري ادب کښې د شهر اشوب وړومبۍ معلوم مثال د لاګاش په بربادۍ ليکلې شوې نظم دے .دا نظم چې د خاورې په تختۍ د ښار په بربادۍ ليکلې شوے دے د دنيا لرغونې ويرنه يادېږي." ( ۸)

په شرقي ژبو کښې مرثيه په عربۍ کښې زېږېدلې ده ، هلته ئې د ودې پړاوؤنه سر کړي دي او بيا ئې په نورو شرقي ژبو کښې ځانله ځائے پيدا کړے دے .په دې حقله د " د دنيا کا قديم ترين ادب" ليکوال خپل خيال داسې څرګندوي.

" عرب کښې د شاعرۍ ابتدا د جذباتو د څرګندونې نه شوې وه، ځکه نو د هغوي د شاعرۍ اغاز هډو د مرثيې نه شوے دے چې دغه د زوروري جذبې اثر ګڼلې شي."(۹)

د جاهلیت د دور ورڅومبی مرثیه ګو قېس بن ساعده الابادي د شپږمې صدۍ عیسوي شاعر یادولې شي.اوومه صدۍ عیسوي کښې لبید بن ربیعه د خپل ورور اربد په مرګ مرثیه وئیلې ده ، هم دا مرثیه عبدالحلیم ندوي د حیات او ممات د یو حقیقي تفسیر ګڼي. ده نه پس په عربۍ کښې یو شمېر شاعرانوسرو او ښځو مرثیې وئیلې دي چې پکښې درید بن الصمه ، تماضر بنت عمرو، ابو ذویب ، حسان بن ثابت ، ابوالعتاهیه ،ابو نواس او داسې نور .

فارسي ادب ته هم مرثیه د عربۍ په لار رانوتې ده. او د یوې مستقلې موضوع شکل ئې اختیار کړے دے. په دې لړ کښې ابو عبدالله جعفر رودکي د دریمې هجرۍ په اوان د مرثیې ورومبے شاعر منلے شي. بیا ابو الحسن فرخي، فردوسي ، شهاب الدین عمق ، شیخ سعدي ، امیر خسرو، خواجه حافظ، نوالدین عبدالرحمٰن ، محتشم کاشاني او داسې نورو شاعرانو په فارسي مرثیه کښې کار وکړو.او نوې نوې تجربې پکښې مخې ته راغلې.

تر کومې چې په پښتو کښې د مرثیې د ابتدا تعلق دے نو په حواله ښاغلے رضا همداني لیکي.

"پښتو ادب کښې مرثیه په څلورمه صدۍ کښې راښکاره شوې ده. د اسعد سوري مرثیه چې هغه د امیر محمد سوري په مرګ لیکلې ده، زما په تحقیق کښې د پښتو لمړۍ مرثیه ده. ددې نه وروستو د زینب مرثیه ده چې هغې د خپل ورور شاه محمود هوتک په مرګ لیکلې وه او بیا دا سلسله روانه شوه تر کال ۱۰۰۰ هـ پورې پښتو ادب کښې بې شمېره مرثیې راغلې." (۱۰)

هم ددغه خبرو اعاده ښاغلي عبدالکافي ادیب پخپله لیکنه کښې داسې کړې ده.

" مرثیې ته د پښتو په کلاسیکي ادب کښې فوقیت حاصل دے . په ماضي کښې د پښتو مرثیې تعلق د څۀ نه څۀ تاریخي واقعاتو او شخصیاتو سره ضرور پاتې شوے دے. په دې لړ کښې د پښتو ادب په تاریخ کښې ورومبۍ مرثیه چې زمونږ په وړاندې راځي هغه په ۴۲۵ هـ کښې د اسعد سوري وئیلې شوې مرثیه ده. چې د خپل بهادر جرنیل امیر محمد سوري په مرګ ئې وئیلې ده." ( ۱۱)

دغه شان پښتو کښې د مرثيې د قدامت په ترڅ کښې ځنې نورو پوهانو خپل خيالات رقم کړي دي. محترم لطيف پريشان ليکي.

" د پښتو په کلاسيکل ادب کښې لاريب چې مرثيه ډېر زيات اهميت لري، ځکه چې په ډېرو مرثيو کښې ځنې قامي ، سياسي ، مذهبي ، اولسي او تاريخي واقعاتو نشان دهي شوې ده. د کال ۱۱۰۰ هـ نه پس خو د پښتو په شعري ادب کښې د مرثيې ضخيمه ذخيره ميلاوېږي ، لاکن دا صرف او صرف مرثيې دي ، چې د عامو خلکو په مرګ ليکلې شوې دي. " (۱۲)

د مشتاق مجروح د ليک تر مخه

" مرثيه په پښتو ادب کښې د ډېر پخوا راسې موجوده ده. ځکه چې تپه ډېر پخوانے څيز دے او زمونږ په ټپو کښې هم مرثيې په ښۀ کافي مقدار کښې موندے شي، لکه

باچا خان بيا له جيله راغے
زما لالے د مقبرې نه نۀ راځينه
که په ژړا لالے راګرځي
اوچه ګيا به زرغونه په اوښکوکړمه (۱۳)

ددې پورته اوږد بحث نه دا خبره راڅرګنده کېږي چې په پښتوکښې مرثيه د وړاندې نه په اولسي اصنافو يا روايتي شاعرۍ کښې په څۀ نه څۀ شکل کښې موجود وه خو وروسته ئې د ګاونډيو ژبو په اثر کښې د يو ځانګړي صورت سره ځان ښکاره کړو او د يوې جدا موضوع بڼه ئې اختيار کړه. چې زمونږ د تحريري يا ديواني شاعرۍ په پانړو کښې خوندي ده. او د پښتو شاعرۍ د وړومبي دور نه تر دې دمه دوام لري. کله چې هم د يو شاعر څوک نزدې خواخوږے، دوست، رشته دار ، مينه وال، يا قامي او ملي اتل په مرګ جدا شوے دے، نو د هغه په غم او فراق کښې ئې د خپلو درديدلو خيالاتو اظهار د مرثيې په شکل کښې کړے دے. په مرثيو کښې يوه مرثيه د انور او منګل په مرګ هم ليکلې شوې ده.

انور او منګل د سکندر خان خټک زامن وو. د یوان سکندر خان د داخلي شهادتونو په رڼا کښې مونږ وئیلې شو چې د انور او منګل نه علاوه د هغه دوه زامن نور هم وو ، چې جلندر او غضنفر نومیدل ، د جلندر په حواله دا خبره یقیني ده چې هغه د پلار تر ژوندانه حیات ؤ، اګرچې ډېر شدید ناروغه شوے دے او سکندر خان د هغه د صحت یابۍ دپاره د قصیده بوصیري په تتبع کښې نعتیه قصیدې لیکلي دي. او ددغه نعتیه قصیدو په وسیله ئې د لوے الله نه دخپل زوي جلندر خان د روغې ستې دعاګانې غوښتې دي. او دغه دعاګانې دهغه روغمنۍ په شکل کښې قبولې شوې هم دي. سکندر خان خټک د دغه نعتیه قصیدو په حقله وائي

خدایه مدعا ئې تندرستي د جلندر ده
سرکړه به حرمت دا مدعا د محمد (ص)
خدایه جلو روغ کړې بیا ئې عمر صد ساله کړې
نعت زه سکندر کړم په زړا د محمد (ص) (۱۴)

په یوه بله قصیده هم دغه ارزو داسې ځایوي وائي .

خداے وته ئې ستا د لوئي رو دې اچولې
ور دې کا شفا جلندر خان ته محمد (ص) (۱۵)

د جالندر خان په حق کښې الله تعالیٰ د سکندر خان خټک دغه زارۍ منلې دي او هغه د بیمارۍ نه ښۀ شوے دے او دا خبره یقیني ده چې جالندر خان د پلار د مرګ نه پس هم ژوندې ؤ. که هغه چرې د پلار په ژوند مړ وے نو سکندر خان خټک به اورمړو د هغه په مرګ مرثیه وئیلې وه. ځکه چې په دې حواله هغه یو ډېر بد مرغه پلار ؤ، د هغه د وراندې درې زلمي زامن خاورو له تلي دي او دغه درانه درانه غمونه هغه په ځان زغملي دي. په دغه زامنو کښې یو غضنفرهم دے، ددې زوي د مرګ په حقله هغه یو ه دردناکه مرثیه رقم کړې ده. چې د هغې نه د شاعر د جذباتو د شدت اندازه ډېره په اسانه لګیدې شي. دلته ترې د نمونې په توګه یو څو شعرونه رانقل کولې شي.

نه به بیا درته نارې کړم غضنفره
نه به بیا کړې راښکاره لکه سپین نمر مخ

ته ګوهر وې فلک مات په نادانۍ کړې
بیا به شین په ډېر ارمان کا د ګوهر مځ
ستا نازک جمال ئې ولید په حیرت شه
خدائے ساز کړې وه دې تا هسې بشر مځ
که اوښیو خاورې سرې کړم راته ښائي
په دا خاورو کښې دې پروت د غضنفر مځ (۱۶)

اګرچې دا خبره پخپل ځائے سمه ده چې د غضنفر مرګ سکندر خان خټک ډېر زورلے دے او دردولے دے خو د غضنفر د غم نه پرته هغه د انور او منګل مرګونو ډېر زیات ژړولې او دردولے دے ، داسې بریښي د سکندر خان خټک دا دواړه زامن په یوه حادثه کښې په یو ځائے مړه دي . په داسې حال کښې چې دواړه لا په ځوانۍ کښې وو. د منګل خپل نوم منور ؤ ، خو د ناز او مینې نه به ئې ورته منګل وئیل. د منګل په حواله د سکندر خان خټک د کلام نه خبره تصدیق ته رسي چې د هغه واده تیار ؤ، خو مرګ مخکښې شو اود هغه ئې د ارمان ډک زړه ګور ته یوړو. لکه چې وائي .

په تیار واده منګل ئې له ما یوور
مګر حوره وه ناسته بې ښځنتنه (۱۷)

سکندر خان خټک د انور خان او منګل مختلف اوصاف ، خوینه او مشاغل هم پخپل کلام کښې ځائے کړي دي. د انور خان په حقله وائي چې هغه سندر غاړے دے ، ښۀ اواز لري د مجلسونو مینه کوي ، خو غالبا" زما نه حیا کوي ځکه ماته وائي چې د مجلس حکم راته مه کوه . دغه شان د منګل د ښکار ذکر کوي چې دې ښۀ نخښه باز دے ، ښکاري دے، د انورنخښه عموما" خطا وي ددۀ رسا وي . دے ښکار کوي او انور ئې د حلالولو کار کوي. خو منګل هم دښکار نه سر ټکوي او د پلار د وینا ترمخه هغه د کولو نه غاړه غړوي. سکندر خان خټک دغه خیالات داسې شعر کړي دي. وائي

انور حکم دمجلس نه کا په پلار
منګل وائي په ما مه کړ بابا ښکار
چې مې دواړه زویه خوبښ نه دې یارانو
هئ توبه توبه توبه د هغه کار (۱۸)

منګل ټوپک ویشته انور خطا وۀ
یو به سر غوځ وه بل په ښکار وۀ
په بیلتانه کښې ئې د پلار زړه اوویشته
هر یک بـاتور وه پـخپل ګزار وۀ (۱۹)

شړ په ګاړو کښې د جوئې په غاړه
انور سندرې په خپله غاړه
انور اوس نشته به هغه ځائے کښې
پـه ځائے ئې کیښنه سکندره ژاړه (۲۰)

په دې لاندینې اشعارو کښې د انور خان او منګل د خدوخال نه مونږ دا اندازه ډېره په اسانه لګولې شو چې هغوي په ځومره عمر کښې د دار فنا نه تلي دي.

پـه مخ راغلې د انور خط وه
د منګل خط نه وه لا یک سپین بط وه
له مـا ئې واخستل په دا خوبیو کښې
مئین پرې خدائے وه سکندر غلط وه (۲۱)

داسې ښکاري چې انور خان د پلار ډېر تابعدار او منونکے ؤ ځکه خو د هغه نه پلار ډېر رضا او خوشحاله ؤ اوالله تعالي' ته د هغه دغه ځانګړنه مخې ته بږدي او دعا غواړي چې که تا د پلار په رضا کښې خپله رضا ایښې وي نو زه د انور نه رضا یم او ته ورله جنت ورکړې.

په رضا که د خپل پلار جنت ګټه شي
خدایه مه کړې د انور څنې پوښتنه (۲۲)

په یوه څلوریزه کښې د انور خان د جدائي درد داسې بیانوي .

چې انور یاد کړم دلسوز هې هې کړم
زړه په سینه کښې سروې سروې کړم
هر آه چې وکاږم د زړهٔ له سوخته
رنګ رنګ آواز د بیلتانهٔ نې کړم (۲۳)

دغه شان په دوه نورو رباعیاتو کښې د انور خان د داغ مفارقت تذکره کوي چې د سکندر خان خټک د روح د زخم د ژړیکو اندازه ترې په بشپړه توګه کېدے شي. وائي.

خبر هېڅ نه ووم په دا ځیري ئې
چې زر به غم راشي هم دلګیري ئې
انور روان شه پلار ئې په ځاے پرېښه
کله دا حق وه د ملګري ئې (۲۴)

جهان معمور دے پکښې باغونه دي
زیړ په ګلونو صحرا راغونه دي
انور مې نور وهٔ له سترګو لاړ شه
کسې مې نه دي اوس دوه داغونه دي (۲۵)

په یو بل شعر کښې چې شاعر ته د انورخان د ملا ګټار رایاد شي نو په دغه مناسبت سره ئې د خوشحالو قلا د غم په توره وهلې کېږي ، وائي

د خوښۍ قلا مې غم په توره پریکړه
چې رایاد شي د انور د ملا ګټار (۲۶)

د انور خان مرګ او بې وخته بیلتون د نوموړي شاعر دپاره یوه لویه او ناقابل برداشت المیه وه. ځکه خو ئې د هغه د خاطر په کورکې اور پورې کړے دے او خوښۍ ټول سامان ئې سوے دے.

انوره ستا د بیلتانه اور شه
پورې زما د خاطر په کور شه
اسباب ئې وسه د خوښۍ واړه
د زړهٔ کنډر مې واړه تش تور شه (۲۷)

هم دا وجه ده چې کله ورته هغه راپه زړهٔ شي نو دغه لمبې ئې د زړهٔ تش تورکنډر لا په خپله غیږ کښې واخلي ، او سکندر خان خټک تر دې حده جذباتي شي چې ترڅو پورې ژوندې وي نو خوب او خوراک به نه کوي او د خپل مرګ سوال به کوي . هغه دغه بې قراري د شعر په جا مه کښې داسې رانغاړي.

چې یــاد و ماته د انور مخ شي
زړهٔ مې لوګـے شي خوا مې تخ تخ شي
پـه دا دنیا کښې ګـمان نه شي
مګر چې ومري په مخ دې سخ شي (۲۸)

چې انور رایاد کړم خوراک رانهٔ لګي
د فراق غشي زما په زړهٔ لګي
خوب به ونه کا چې څو ژونـدے ګرځي
خدایه سکندر بیایه چې ارخ ئې وهٔ لګي (۲۹)

هم دغه د خپل مرګ ارزو او سوال په یوه بله مرثیه کښې څهٔ دا رنګ کوي. وائي

اوس مې نـه کېږي په چا باندې وتنه
چې انور منور لاړل د وطنه
انور خان مـنور نه راغله لارغه شول

دواړه سترګې مې شوې سپينې په کتنه
چې انور منور لاړل ډېر راضي يم
زه سکندر خټک د ساهې په وتنه (۳۰)

دا سکندر خان خټک ددغه ارثائي افکارو نه دا خبره جوتېږي چې هغه په انور خان پسې لکه د ماشومانو ژړلي دي ، په آه و فرياد او اوښکو ئې د خپل ماتم انغرے تود ساتلے دے، په ژړا ئې خپله غاړه بوغه کړې ده، ځان ئې د کټ کړے دے . ولې بيا هم دغه هرڅۀ د انور خان د ماتم د حق ادا کولو په لړ کښې هېڅ نۀ ګڼي . او ځان ملامته کوي چې ما ګڼې هېڅ هم نه دي کړي ، زما غاړه که ناسته ده نو دا زۀ ساړۀ وهلے يم ، خلق به وائي چې دا ئې د انور خان په مرګ ژړلي دي او د هغې له وجې ئې اواز ناست دے ، خو داسې نۀ ده.

اه و فرياد کړم زۀ په دروغه
زۀ په ځـان روغ يم انور ناروغه
ساړۀ وهلے يم سينه مې کښېناسته
غـاړه مې نه ده په ژړا بوغه (۳۱)

د انورخان سره سره د سکندرخان خټک زړۀ د خپل ځواني مرګ منګل په غم هم ژاړي. داسې چې د هر ټکي نه ئې وينې وينې اوښکې څاڅي.

د منګل د خولې خبرې نمکينې
دوړوي مې واړه مـالګې په پرهار
په ځيګر کښې مې د اور لمبې تازه شي
چې په زړۀ کړم د يارانو سپين رخسار (۳۲)

په يوه بله څلوريزه کښې د دغه دواړو نازولي زامنو په مرګ د ارمان خاورې په سر دا رنګ بادوي.

خوش تر د ګلو د يار بشر ژاړي
پـه ورځ ارام نه کا په شپه سحر ژاړي

سکه خپل مرګ نه ویني په دا دنیا کښې
سکندر نه ژاړي منګل انور ژاړي (۳۳)

او کله چې دغه غم غبرګ شي نو دشاعر د روح دنیا ته اور کېږدي ، هغه د دوه زلمو زامنو دغه لمبه خیزه غم لیوـنے کوي او د زغم وندني ورله شلوي. ځکه خو وائي

چې رایاد شي د انور منګل مخونه
نور مې نه لګي په سره پالنګ ارخونه
چې ئې تورې سترګې یادي کړم باور کړه
تور بانه ئې تر ما اووځي سیخونه
عالم واړه نندارچي دے نندارہ کړي
اجل وسوله په اور د انور خونه
په ځوانۍ به ئې لاس سره د انور نه وۀ
عزرائیل که ویریدې چرې له خونه
فلک خوښ په خوشحالۍ د سکندر نه وۀ
چې په مرګ ئې د انور وکړه ځرخونه (۳۴)

یا دا چې

یا تورتم شه سپوږمۍ او نمر لاړ
یا نمر سپوږمۍ شته منګل انور لاړ
اوس به په څۀ ګورې ښکلې مخونه
تش کولکونه دي نورالبصر لاړ (۳۵)

د سکندر خان خټک د ځنو اشعارو نه دا ثابتېږي چې هغه د انور خان او منګل مرګونو شپه ورځ بې ټیکاوه ساتلے دے او د هغوي یاد دځان سره په ژړا مشغول کړے دے. دغه حالت چې ددۀ عزیزانو او خپلوانو لیدلے دے نو دہ ته ئې نصیحت کړے دے چې د ژړا او اوښکو دا سلسلې

ختمې کړه او د خداے نه د صحت او خوښۍ غوښتنه کوه. خو سکندر خان خټک ورته هم په غم لړلے جواب ورکوي .

عزیزان وائي سکندره مه ژاړه
خوښي خندا کړه د ځان صحت غواړه
صحت خوښي له ما خداے واخستې
چې ئې له ما یوړل انور منګل دواړه (۳۶)

ځکه چې د هغه عزیزان د هغه د غم نه څۀ خبر وو، ځکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي.

په زړونو روغ ګرځي عزیزان واړه
درست د غم بار شه زما په غاړه
انور منګل چې سکندره لاړل
اوس شوې بې کسه یوازې ژاړه (۳۷)

او بیا د سکندر خان خټک غم دومره انتها ته ورسي چې هغه نورې دنیا ته شا کړي هغه غواړي چې د زامنو د بیلتون دغه اذیت هغه په یوازي ځان د نورې دنیا نه لرې ي چرته په ویرانه کښې تېر کړي ، د ودانۍ نه وتښتي او په دشته کښې په چغو چغو وژاړي.

انور منګل لاړل په ښۀ ځوانیه سکندر مخ کړه په ورانیه
زما ئې خاورې کړه زندګانیه ژاړه اوس تښته له ودانیه (۳۸)

ددې پورته اوږد بحث نه پس مونږ په دې نتیجه رسو چې د سکندر خان خټک په شعري موضوعاتوکښې یوه مهمه موضوع د ارثاء هم ده. چې د هغۀ په کلام کښې ئې نه یوازې ځانله ځاے پیدا کړے دے، بلکې هغۀ پکښې د خپل درد و غم اظهار په ډېره بوقلمونۍ سره کړے دے. که یو پله د سکندر خان خټک د فني او فکري اړخونو د کوټلتیا ترجماني کوي نو بل پله د هغه د ژوندانه د یوې دردناکې المیې حقائق هم پخپل ځان کښې خوندي کوي. څۀ چې د نن محقق ته بې ددغه مرثیو

نه په بل هيڅ ځۀ کښې هم په لاس نه شي ورتلې.او دا شان مونږ ته د ماضي هاغه معلومات راپېرزو کوي چې خلق ترې تر دمه ناخبره دي.

## ماخذونه


۱: دهلوي،سيد احمد، مولوي ، فرهنګ آصفيه ، اردو سائنس بورډ ، لاهور ، ۲۰۰۶، ج ۳ او ۴،۳۲۰ مخ

۲: خټک ، فضل مير ، فضليات ، حيات بک ډپو کرک ، ۱۹۹۹ء ، ۳۸۷، ۳۷۹ مخونه

۳: نصيب الله سيماب ، ډاکټر . د کره کتنې اصطلاحات ، پښتو اکيډمي بلوچستان کوئټه ، مئ ۲۰۱۳، ۱۷۴ مخ

۴: عطش دراني ، ډاکټر، اردو اصناف کي مختصر تاريخ ، مکتبه ميري لائيبري لاهور، دوئم چاپ، ۱۹۸۶ء ، ۶۲ ، مخ

۵: نورالبصر ، پښتو کښې د مرثيه نګارۍ روايت : فني او فکري جائزه. د ايم. فل ناچاپه مقاله ، ۷ مخ

۶: ابن حنيف ، دنيا کا قديم ترين ادب ،بيکن بکس ملتان ، دريم چاپ، ۱۹۹۸ء ،

۷: همدغه کتاب ، ۳۱۴ مخ

۸: همدغه کتاب ، ۶۲ مخ

۹: شبلي نعماني، مولانا. موازينه انيس و دبير، مکتبه عاليه لاهور، ۱۹۸۷ء ، ۱۲ مخ

۱۰: رضا همداني ، د پښتو مرثيه ، مشموله ، اباسين پيښور ، جولائي ۱۹۵۹ء ، ۱۰ مخ

۱۱: اديب ، عبدالکافي. پښتو کښې مرثيه ، مشموله ، اولس کوئټه ، اکتوبر ۱۹۹۰ء ، ۲۸، ۲۹ مخونه

۱۲: پريشان ،لطيف ، د پښتو په شعري او نثري ادب د واقعه کربلا اثر ، مقاله مشموله اولس کوئټه ستمبر / اکتوبر ۱۹۸۷ ء ، ۲۴ مخ

۱۳: يوسفزے ، مشتاق مجروح، زرکاڼے ، يونيورسټي بک ايجنسي پيښور ، نومبر ۲۰۱۰ء ، ۱۴۹ مخ

۱۴: خټک. سکندر خان ، ديوان سکندر خان خټک ، اداره اشاعت سرحد پيښور ، ۱۹۵۳ ء ، ۱۶۷ مخ

۱۵: همدغه کتاب ، ۱۶۹ مخ

۱۶: همدغه کتاب ۲۹۲ مخ

۱۷: همدغه کتاب ۲۹۶ مخ

۱۸: همدغه کتاب ۱۶۹ مخ

۱۹: همدغه کتاب ۲۴۰ مخ

۲۰: همدغه کتاب ۳۴۱ مخ

۲۱: همدغه کتاب ۲۳۹ مخ

۲۲: همدغه کتاب ۲۹۷ مخ
۲۳: همدغه کتاب ۲۳۲ مخ
۲۴: همدغه کتاب ۲۴۳ مخ
۲۵: همدغه کتاب ۲۴۴ مخ
۲۶: همدغه کتاب ۱۶۹مخ
۲۷: همدغه کتاب ۲۴۰ مخ
۲۸: همدغه کتاب ۲۴۵ مخ
۲۹: همدغه کتاب ۲۴۶ مخ
۳۰: همدغه کتاب ۲۹۶ ، ۲۹۷ مخونه
۳۱: همدغه کتاب ۲۴۰ مخ
۳۲: همدغه کتاب ۱۶۹، ۱۷۰ مخونه
۳۳: همدغه کتاب ۲۴۳ مخ
۳۴: همدغه کتاب ۲۰۷، ۲۰۸ مخونه
۳۵: همدغه کتاب ۲۷۷ مخ
۳۶: همدغه کتاب ۲۴۰ مخ
۳۷: همدغه کتاب ۲۳۹ مخ
۳۸: همدغه کتاب ۲۴۴ مخ